بسم الله الرحمن الرحيم

# پانگوال نظام د فردي او ټولنيزو اړتياوو تر منځ انډول نشي ساتلی

**خبر:**

د څارگر مقالې ليکوال ويل هاټن، مقالې سرليک: «کومه فلسفه له موږ سره مرسته کوي، چې له مخامخ شويو بحرانونو سره مقابله وکړو... لومړی موږ او که لومړی زه ؟ (منبع: گارډين ورځپاڼه).

**تبصره:**

د سيکولر پانگوال نظام شته بحران ورځ تر بلې ژوريږي، ملاترکوونکي يې د گټو په اړه خبرې کوي، په داسي حال کې چې ورځ تر بلې په دې پوهيږي چې نور نشي کولای د هغې له زيانونو څخه سترگې پټې کړي. د مقالې ليکونکی پيشنهاد کوي، چې د حل لاره د ټولنې او فرد تر منځ د مناسب انډول پيداکول دي. اوس يوه واضح پوښتنه راپيداکيږي، چې څوک د مناسب انډول پريکړه کوي؟ موږ څنگه پوه شو چې دغه حق مو لاسته راوړی؟ دغو پوښتنو ته ځواب آسانه نه دی، د ډموکراسۍ پلويان تل دغه ډول پوښتنو ته ځواب نشي ويلی. د هغوی تر ټولو ښه حلاره اساسي ځواب ويلی نشي، هغوی له ناهيلۍ څخه اکثريت رايې ته ورگرځي، چې دا هم ښايې رښتيا وي. ځکه نو هره ډله چې له نورو ځواکمنه وي او د دې وړتيا ولري چې د يوې موضوع په اړه عام نظر بدل کړي، پرته له دې چې مناسب انډول په نظر کې ونيسې په ډموکراتيکې سيالۍ کې بريالی کيږي.

اسلام د فردي او ټولنيزو غوښتنو ترمنځ انډول په څېر بنسټيزه او پيچلې موضوع د خلکو رايې ته نه ده پريښې. نه هم اللهتعالی بشر په خپل منځ کې مبارزې ته پريښی، ترڅو يوه ډله، په اکثريت ډموکراتيک ا اعلان کړي. د دغو دوو ډلو تر منځ د جگړې د دوام زيان خورا زيات دی، سره له دې چې د الله تعالی له لوری د يوه پيغمبر په لېږدلو سره موږ د دوی له ځان غوښتنې او متبکرانه شخړې خلاصولی شي.

کله چې د الله تعالی شرعيت پلی شي په هېڅا ظلم نه کيږي او هېڅ کومه ډله له پامه نه غورځول کيږي. شرعيت د خلکو او ټولنې ترمنځ سم تعادل ټاکلی، دا چې څه شی اساسي اړتيا ده او څه شی تجملي غوښتنه ده. همدا راز يې هغه برخې چې خلک په هغې کې هېڅ ډول نظر او انتخاب نشي کولی، نه هم متحصصين نه

هم د خلکو اکثریت رايې هغه برخې بدلولی شي د قرآن او سنتو له لوري ټاکل شوي د بدلون وړ نه دي او نه هم د یوې ډلې د فلسفي هوس تابع دي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته!**

**یحی نسبت**

**د حزب التحریر برېتانیا مطبوعاتي دفتر رییس**

**1443 هـ.ق، د جمادی الاول 26مه**

**2021م د ډسمبر 30مه**